بسم الله الرحمن الرحیم

# زهر او درمل یې

**خبر:**

د ترکیې د بهرنیو چارو وزارت ویلي: د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو به د سې شنبې په ورځ د بروکسل په څلورم کنفرانس کې، چې له سوریې او سیمې څخه د ملاتړ تر سرلیک لاندې د اروپایي ټولنې په مشرۍ جوړېږي، ګډون وکړي. یاد وزارت په یوه اعلامیه کې څرګنده کړې: «تمه کېږي چې دغه کنفرانس د هغو ډېرو هڅو لپاره چې د سیاسي حل لارې لپاره ترسره شوې، د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې یې ملاتړ وکړي او په سوریه کې پر بشردوستانه حالت بحث وکړي.» (سرچینه: د شام شبکه)

**تبصره:**

سلطان عبدالحمید ربښتیا ویلي: ((نن پیسې واخله، سبا سپاربښتنه وکړه!)) دغه هېوادونه چې ځانونه نغدي مرسته کونکي بولي، یو ځل بیا را ټولېږي، څو د شام د پاڅون پایته رسېدو لپاره خپله نقشه عملي کړي؛ هغه انقلاب چې د ترکیې رژیم یې له بدلون ډډه کړې او یوازې د هغه د نوم او بڼې له بدلون پرته نور څه نه غواړي. څنګه چې وایي: «د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر

هڅه کوي چې له نورو هېوادونو سره یوځای د سوریې د نظام اساسات د هغه څه له لارې چې دوی یې سیاسي حل لاره یادوي، تثبیت کړي.

کوم ملاټړ چې د کلونو په اوږدو کې له شام څخه شوی، له هغو وژونکو زهرو پرته چې د شام په انقلاب کې دننه شوي، بل څه نه دي؛ څو په دې وسیله دښمنان وکولی شي هغوی بې‌هوښه کړي او ګډوډې پکې رامنځته کړي. په پایله کې یې زهر د بشریت په پوښښ کې دننه شول، اوس هغوی د سوریې د جنایت کوونکي نظام پر وژنو سترګې پټوي، وروسته هغه کس چې په دغو وژنو کې ټپي یا ژوبل شي، د درملنې لپاره یې امبولانس ورلېږي. د دې تر څنګ د سوریې رژیم ته اجازه ورکوي چې د انقلاب مشران له ډېری سیمو وباسي او هجرت کولو ته یې اړ کړي. تر هغه ورسته هغو کسانو ته کېږدۍ ورکوي چې هجرت ته یې اړ کړي وي، چې نه یې له یخنۍ څخه ساتنه کوي او نه هم له ګرمۍ.

ای د شام خلکو! د دې ناروغۍ یوازنۍ درملنه د دښمنانو پر واقعیت پوهېدل او د انقلاب په چوکاټ کې د دې پوهې لېږد دی، چې یو ځل بیا انقلاب راژوندی کړي او په پایله کې انقلاب له سستۍ او ټمبلۍ لېرې کړي. د دوکه ورکوونکو رسۍ پرې کړئ، اوسني بدکاره مشران او رهبران له واک لېرې کړئ، په کلکه رسۍ منګولې ولګوئ، خپل خلک راټول کړئ او د الله سبحانه وتعالی فرمان ته تسلیم شئ.

الله سبحانه وتعالی کولی شي چې د دښمن فرېب او مکر هغوی ته ور وګرځوي او الله سبحانه وتعالی پر خپله ژمنه وفا کوي. نو تاسو یې ژمنه

تصديق کړئ، امر يې عملي کړئ، په رسی يې منګولې ټينګې کړئ او پر هغه توکل وکړئ! هغه وخت به د نړيوالو د پروردګار نصرت راورسېږي، څنګه يې چې پخپل کتاب کې فرمايلي دي:

**﴿وَكَانَ حَقّاً عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾**

[روم:۴۷]

***ژباړه:*** *تل د مومنانو ملګرتيا پر موږ واجب ده.*

**ليکونکی: منير ناصر**

**د حزب التحرير ـ ولايه سوريې د مطبوعاتي دفتر غړی**

**ژباړن: الهام پردېس**